ولي الله ملکزی

۲۰۲۴/۰۹/۱۴

# د خِلقَت د غوره استازي (ص) کليزه

له نن څخه ۱۴۹۹ کاله وړاندې، په مکې او ګرد چاپېره سپېرو غرونو او شګلنو دښتو کې د تمدن، نظام او اخلاقي معيارونو په نوم هيڅ هم نه وو. کيږدۍ وې، بتکدې وې، ميکدې وې او د ساقي کړنګيدلي جامونه. بدلمنو ښځو به په جونګړو سرې جندې رپولې او ځينو اندېوالانو به خپلې کور وداني يو له بل سره بدلولې را بدلولې. ولې تر ټولو ستر ناورين دا وو چې تورمخو پلرونو به د شرم له وجې، خپلې تنکۍ او ګلالۍ لوڼې ژوندۍ په خاورو کې خښلولې.
د خليل په سپينه ږيره او ذبيح په تنکيو لاسونو جوړه د توحيد خونه، د هُبَل په ګډون له لس ګونو بتانو څخه ډکه وه. چَم په چَم به ډبرينو خداېګوټو ته د تعظيم پخاطر مشرکې ککرۍ سر په سجده وې او عربان د فقر تورې بلا پخپلې غيږې کې ټينګ نيولی وو. کونډې د ميراث برخه وه او مړوښې ښځې به د حيض په ورځو کې له بړبړي اوښانو سره په غوجل کې ساتل کيدلې. د زمان په همدې خوړين او زبېښلي پېر کې چې د حضرت مسيح د پېدايښت ۵۷۱م کال د اپريل۲۲مه د دوشنبې ورځ وه، د بني هاشمو په قبيله کې يو ماشوم وزيږېد. پلار يې له پيدايښت ترمخه په حق رسيدلی وو؛ په شپږ کلنۍ کې يې مور وفات او د بوډا نيکه، شپږو عمه ګانو او نهو ترونو اسرې ته پاتې شو چې يو يې ابو لهب وو.
خو د څلوېښت کلنۍ په عمر يې د حِراء د سمڅې دننه د جبرائيل له خولې داسې ملکوتي غږ ترغوږونو شو چې خولې يې ورباندې راماتې کړې. د ليک لوست او وحدانيت دغه لمړني فرمان، پاشل شوې قبيلې د يوې عقيدې او يو زعامت لاندې راټولې او له غلامۍ، بدمرغۍ او نيستۍ څخه يې د باداري، واکمنۍ او بيدارۍ ليکې ته سيده کړې. ناغيړو او سرسبيلو قريشو ورباندې د مکې خاوره سور تنور کړه؛ دېته يې اړويست چې خپله لور او يو شمير نژدې ياران د سور سمندر بلې غاړې کې د نصراني نجاشي دربار ته واستوي. د طائف احمقانو پرې د ليوني ګومان وکړ؛ په ډبرو يې وويشت؛ خو هغه د پښېمانۍ په ځای لازيات هوډمن شو.
په خپله نالوستې او أمي وو، خو د القلم، النساء او النور په نوم نازل شوي سورتونه يې خپل امت ته امانت ورسول. د څنګ ملګري يې داسې وروزل چې له چا يې صديق جوړ کړ، څوک يې فاروق کړ، څوک عثمان، څوک علي او څوک يې خالد بن الوليد کړ، هغوئ چې اوس د تاريخ منلي او د پرګنو ښاغلي دي. داسې يو امت يې رامنځ ته کړ چې د کاشغر منارې، د بخارۍ ګومبزې، د بغداد کتابخانې، د دمشق محرابونه، او د اندلس قُرطُبه او غَرناطه يې د مدنيت شاهدان دي. داسې امت چې د ميرمنو مقام او د بوډا ګانو احترام د کرامت نښه وبلل شوه. د مکې د فتحې په ورځ يې د تبعيض او آپارتايد په خلاف، تور پوستي غلام (بلال) ته امر وکړ چې د کعبې بام ته پورته شي او آذان وکړي. د عرفات په غونډۍ يې خپلو اصحابو ته وويل: «ای خلکو تاسو ټول له آدم څخه پيدا ياست او هغه له خاورې او خټې څخه جوړ وو. عرب له عجم څخه غوره نه دی مګر هغه څوک چې ډيره تقوی او ښه انسانيت ولري. ای خلکو، له الله وډارېږئ او له خپلو ميرمنو سره د عزت چارچلند وکړئ.«
داسې ميړه وو چې عائشې رض ته اجازه ورکوي د غشو ننداره وکړي او د حديبيې د تړون په ورځ د أم سَلَمَة مشوره مني چې خپل ويښتان واړه او حلالکه وکړي. داسې پلار وو چې کله فاطمه رض له واده وروسته کورته راځي، دې ورته پاڅيږي، څادر ورته غوړوي او لاس يې مچې کوی. داسې نيکه وو چې په سجده پروت دی، لمسی يې په اوږو ناست دی خو دې نه سر نه جګوي ترڅو د لور زوئ يې خوشحاله شي. داسې مشر وو چې د مکې مشرکينو ته ښننه کوي، د مدينې له يهودو سره تړون کوي او د نجران نصاری په خپل مسجد کې ملاقات ته ورغواړي. داسې دوست وو چې د منافقينو د مشر، أُبَيِّ بْنِ سَلُول د زوئ، عَبْدُ الله خواهش پوره کوي هغه ته خپل څادر ورکوي ترڅو د خپل منافق پلار کفن په کې را ونغاړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

ډیر کله به یې د ورځو ورځو لپاره له نغري څخه لوګی نه پورته کیده؛ نه یی درهم او دینار ترشا پرېښودل او نه یی ځوک ولیعهد وټاکه، بلکې د زعامت د غوراوي دا مهمه پرېکړه یې د خپل امت دِرایت ته پرېښوده. هغه د اخلاقو د ګرځنده او مجسم قرآن بېله درلودله، «کان خُلُقُه القرآنَ». کله یې چې زوئ (ابراهیم) وفات شو، نو په دغې ورځې لمر تندر ونیولو/ کسوف رامنځ ته شو. په داسي حال کې چې له سترګو یې اوښکې رواني وې، خلکو ته یې وویل: «لمر او سپوږمی د چا په ژوند او مرګ نه توریږي، هغه د الله نښې دي». آیرلنډي مستشرق، هربرټ وایټ پخپل کتاب (ستر
ښوونکي) کې کاږي: «محمد خپل أمت او ټولنه له وهمونو او ګمانونو څخه د حقیقت په لور او له بت پرستی څخه د خدای پرستی لور ته را وبلله او یوه جاهله ټولنه یی د مدنیت او سرېتوب په لارې روانه کړه.«
هغه ځوک چې وایي د میلاد النبي نمانځنه بدعت دی، هغوئ دې لومړی د خپلو ملي جشنونو او اولادونو د ورځو نمانځنه پرېږدي بیا دې د صحیح مسلم دا حدیث مخې ته ودروي. «سُئِلَ صلی الله علیه وسلم عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الِاثْنَيْنِ؛ قَالَ: ذَاكَ يَوْمٌ وُلِدْتُ فِيهِ، وَيَوْمٌ بُعِثْتُ - أَوْ أُنْزِلَ عَلَيَّ فِيهِ - کله چې له رسول الله ص څخه پوښتنه وشوه ته ولې د دوشنبې په ورځ روژه نیسې؟ هغه ځواب ورکړ، ځکه چې زه په دغې ورځې زیږیدلې یم او په دغې ورځې پیغمبر شوی یم، یا وحې راباندې نازله شویده.«
یا رسول الله **!** ته سید الخلق یې، ته د وفا سمبول یې، ته د تسل ډیوه یې ته د هیلو ځرک یې. تل به د خپلو امتیانو د ګوګل په پنجرو کې اوسیږې؛ ځکه چې ته د انسانیت، رحمت، اعتدال او مینې استازې یې. نو په ډېر درناوي سره وایم: صَلَوٰاتُ الله وَسَلامُه عَلیکَ، یا محمد بن عبدالله
---------------------------------
پاملرنه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نورې لیکنې او ځیرنې د هغه په فیسبوک او یوتیوب چینل کې ولولي او وګوري. ادرس یې دا دی Wali Malakzay :


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ